بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

سر یال نمبر: 303

یووالی، ایمان، انضباط

دملت غږ

# چترال: ځايي خلکو له امنيتي ځواکونو سره پيوستون ځرګند کړ د خوارجو تکفيري اجنډا له ناکامۍ سره مخ ده

د چترال وطن پرستو او زړورو ولسونو تل د تش په نامه جهاد تر نامه لاندې د تکفيريانو اجنډا رد کړې او د امنيتي ادارو په مرسته يې د خوارجو شوم نيتونه شنډ کړي دي۔

په وروستيو ورځو کې يو ځل بيا خوارجو د افغانستان له خاورې په استفادې چترال ته د درانديزي هڅه وکړه چې د امنيتي ځواکونو له خوا پر وخت او موثرو اقداماتو سره شنډ کړل شوله او خوارجو ته درانه تلفات واوښتل۔

**د سيمې خلک په چترال کې د سولې د ټينګښت لپاره د امنيتي ځواکونو د قربانيو قدر کوي او د خوارج په وړاندې په دې جګړه کې د امنيتي ځواکونو ترڅنګ ولاړ دي۔**

**ټول ولس وليدل چې څنګه د چترال زړور خلک په خپله خوښه د امنيتي ځواکونو مرستې ته راغلل او لرې پرتو سرحدي سيمو ته يې د توکو په رسولو کې رهبري وکړه۔**

بې له شکه د امنيتي ځواکونو سره د مينې او پيوستون له دې اظهار وروسته د خوارجو په ليکو کې سخت مايوسي شوې ده او ترهګر نور ولي محسود نه يوازې دا چې د خپلو لويو تلفاتو پټولو ته اړ شوی دی، بلکې هغه پخپله هم نورستان ته ورغلي او وسله والو په هڅولو کې پاتې راغلی دی۔

ددښمنانو په ټوټو جوړه شوې بهرنۍ ډلې اوس له دروغجنو تبليغاتو او منافقت پرته بل څه نه لري، چې دسيمې خلک يې پخپله په خپلو ځرګندونو سره افشا کوي، نو خوارج اوس د پټيدو ځای نه لري، ځکه اوس افغانان هم پرې نيوکې کوي۔